مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالباری جهانی
۲۰۲۳/۰۳/۲۹

# وهابیان څوک دي؟

## دوولسمه برخه

### دیوبندیان، سلفیان او بریلویان:

مخکي مو وویل چي محمد بن عبدالوهاب خپل تحریک په اسلام کي د بدعتونو او د ده په عقیده کُفري عقایدو او د شِرک د اعمالو پر ضد پیل کړ؛ او د ده له وفات څخه څه باندي ۱۳۰ کاله وروسته، د ده د عقایدو په اساس، سعودي عربستان منځته راغی، چي په هغه کي نجد او حجاز دواړه شامل ول. د ابن عبدالوهاب د تحریک په اهدافو کي د خارجي دښمن سره مقابله چنداني مطرح نه وه او د هغه ستونزه یوازي له هغو مسلمانانو سره وه چي د اسلام له دین څخه یې، پرته له دې چي وپوهیږي، انحراف کړی وو.

په نونسمه پېړی کي سید جمال الدین افغاني او محمد عبدُه د اسلام د وروسته پاته والي اساسي علت د اسلامي ملکونو او د هغوی د اوسېدونکو ترمنځ بې اتفاقي او پر هغوی باندي د استعماري قوتونو، لکه برتانیه او روسیه، تسلط تشخیص کړ. هغوی خپله مبارزه زیاتره د مسلمانانو د یو کولو او پان اسلامیزم Pan Islamism تر نامه لاندي پر مخ بېوله.

له دوی څخه وروسته، په شلمه پېړی کي، اخوان المسلمین او د هغوی لو مړي لاربنود او موسس حسن البناء د اسلامي امت د وروسته پاته والي اصلي علت په اسلامي هیوادو نو کي د فاسدو او مستبدو رژیمونو قدرت تشخیص کړ او د هغوی د نسکورولو شعار یې ورکړ. له حسن البناء څخه روسته سید قطب د خپلي مبارزې د توجیه کولو لپاره د قرآن شریف په آیتونو تمسک وکړ او د« فی ظلال القرآن» په نوم یې داسي تفسیر ولیکی چي په اسلامی دولتونو کي یې د فاسدو او مستبدو واکمنانو پر ضد پاڅون ته شرعي او قرآني رنګ ورکاوه او زیاترو دیني علماوو یې، قرآن شریف ته د نویو تعبیرونو د پیداکولو له امله، د کفر فتوا صادره کړه. په عربي ملکونو کي د اخوان المسلمین تحریک یو وخت دونه زور واخیست چي یوازي په مصر کي یې د غړو شمېر نیم میلیون تنو ته رسېدی.

د اخوان المسلمین له تحریک څخه ښه ډېر مخکي، د هند په نیمه وچه کي دیني علماء یوازي د مسلمانانو له خرافی عقایدو د اصلاح کولو له ستونزي سره مخامخ نه ول بلکه هم د برېتانوي استعمار تسلط، هم په ۱۸۵۷ کال کي د مغولو د تش په نامه سلطنت سقوط او پر ډهلي باندي د انګرېزانو مستقیمه سلطه او هم د هندو اکثریت له خوا د مسلمانانو مذهبي موسسو او عقایدو ته تهدید او ضمناً د انګرېزانو تر غیر مستقیمی او مستقیمی اداري لاندي د مسلمانانو د فاسدو خودمختارو نوابانو وجود له هغوی څخه د یوه اقدام غوښتنه کوله.

په ۱۸۵۷ کال کي د ډهلي د پاڅون ماتي او برما ته د مغولو د وروستي، تش په نامه، پاچا بهادرشاه ظفر تبعیدېدلو د هند د مسلمانانو ټولنه، چي باید سل کلونه مخکي متوجه سوې وای، ولړزوله. د ډهلي د پاڅون د شکست په مقابل کي دوه ډوله عکس العمل طرح سو. سرسیداحمدخان، چي کلونه یې د برتانوي حکومت په ادارو کي مأموریتونه او خدمت کړی وو، په دې عقیده وو چي تر څو پوري مسلمانان باسواده او تعلیم یافته نه سي او له هغو عصري علومو او تخنیک سره اشنا نه سي چي غربیان کار ورڅخه اخلي او د همدغو عصري علومو په زور پر شرقیانو باندي حکومت کوي؛ مسلمانان هیڅ کار پر مخ نه سي بېولای. سرسید احمدخان خپله توجه د مسلمانانو د باسواده کولو خواته واړوله او چنداني یې د تحریکونو او جمعیتونو سره د پیوستون خواته حرکت ونه کړ. په ۱۸۸۶ کي یې د ټول هند د مسلمانانو یو تعلیمي کنفرانس جوړ کړ چي د هند د مسلمانانو تر منځ په پیوستون کي یې ډېره ښه اغېزه وکړه. د هغه د هر مجلس او هري ورځي دغه یو شعار وو. تعلیم وکړی! تعلیم وکړی! تعلیم وکړی! History of Muslim Philosophy P1581

سرسید احمدخان له دې څخه مخکي، په ۱۸۶۴ کال کي، په مراد آباد کي یوه علمي ټولنه جوړه کړې وه چي وروسته یې مرکز علی ګهړ ته نقل سو. دغه علمي مرکز له انګلیسي ژبي څخه اُردو ته د تاریخ، سیاسي اقتصاد، کرنې، ریاضي او نورو علومو په باب ترجمې وکړې او د علي ګهړ د موسسې په مجله کي یې چاپ ته وسپارلې چي د خلکو په راوېښولو، تعلیم یافته کولو او عصري علومو ته په متوجه کولو کي یې ډېره مثبته اغېزه وکړه. Ibid P 1592


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په خیر و لولئ

سره له هغه چي سرسيد احمدخان په هره وينا او هره ليكنه كي د اسلام دين ته پر وفاداری باندي ټينګار كاوه او شاګردانو او محصلينو ته به يي ويل چي پر خدای او محمدص باندي عقيده يوازنی ارتباط دی چي زموږ او تاسي تر منځ موجود دی. كه د اسلام پر دين باندي عقيده ونه لری تاسي زموږ له ډلي څخه نه ياست. زه غواړم چي تاسي اروپايي علوم او ادبيات په ښه ژوره توګه مطالعه او زده كړی مګر زه په په عين وخت كي ستاسي څخه غواړم چي خپل دين ته وفادار اوسی. Ibid P 1597

مګر ديني علماوو پر هغه باندي هيڅ ډول اعتماد نه درلود او هغه يي د اسلام له دين څخه منحرف او حتی كافرباله. د هغه په مقابل كي د علماوو د مخالف دريځ علت يوازي د عقايدو اختلاف نه وو بلكه بل او مهم علت يي دا وو چي سرسيداحمدخان د برتانيي طرفدار دريځ اختيار كړی او يا لږ ترلږه له هغوی سره يي نرم سلوک كاوه. د سيداحمدخان له دي دريځ سره سيد جمال الدين افغاني هم، په ډيرو توندو كلماتو خپل مخالفت ښودلی دی. كله چي سيد د دوهم ځل لپاره هند ته سفر وكړ او هلته زيات و كم دوه كاله تم سو؛ تر ټولو زيات وخت يي په حيدرآباد كي تېر كړ او تقريباً شل مياشتي هلته ديره وو. په حيدرآباد كي يي د سرسيد احمدخان له ملګرو سره ليدلي وه. سره له هغه چي هغوی يي ښه مېلمه پالنه كړي وه خو سيد د سرسيداحمدخان پر پروګرامونو باندي له حملي كولو څخه لاس وانه خيست. Keddie, P 146

سيد جمال الدين د سرسيداحمدخان په باره كي وايي: هر هغه څوک چي د خپلو ورونو د قاتلانو دفاع كوي هغه تر ټولو بد كسان دي. سيد حتی سيداحمدخان ته كافر او ميټرياليسټ وايه. Ibid P168

دا وخت د پښتونخوا په غرونو په تېره بيا د سوات په علاقه كي د سيداحمدبرېلوي طرفداران، چي انګرېزانو هغوی ته د هندي وهابيانونوم وركړی وو، په وسله واله مبارزه لګياول او انګرېزانو ته يي هغه سيمه سره تبۍ كړي وه. د سيد احمدبرېلوي د جهادی تحريک طرفداران په هند او د انډيمان په ټاپو ګانو كي په زندانونو كی اوسېدل او جايدادونه او كورونه يي ضبطدېدل؛ خو د هند مسلمانانو او حتی هندوانو هغوی ته پرله پسي پيسي ټولولي او جنګي افراد او ځوانان يي ورلېږل.

د ديوبند د علماوو تحريک زياتره مذهبي رنګ درلود او تقريباً يوازي د مذهبي علماوو او د هغوی د شاګردانو په منځ كي پاته سو. د مسلمانانو ډېر لوی او مشهور منورين د كانګريس سره يو ځای سوي ول او په وروسته كي لا ډېر مسلمانان، د عثماني امپراطوری څخه د دفاع په منظور د خلافت ګوند ته ولاړل. پخپله د ديوبند د علماوو يوه برخه يوازي د اسلام د د ين د تبليغ او د اسلامي متونو د خپرولو او تر خلكو پوري د رسولو طرفداران او يوه برخه يي د انګرېزانو پر ضد په عملي ډګركی د برخي اخيستلو طرفداران ول. البته د مسلمانانو پراخ اكثريت، چي نېستمن او بېسواده ول، په هيڅ ډول تحريک كي د برخي اخيستلو علاقه او فرصت نه درلود او د انګرېزي واكدارانو څخه وېره يي لا په دغه راز تحريكونو كي د برخي نه اخيستلو بل علت وو.

هغسي چي وهابي تحريک د لومړي نړی وال جنګ له ختمېدلو څخه وروسته يوازي د سعودي عربستان او متحده عربي اماراتو په خاوره كي محصور پاته سو او نور له خپل پخواني زور څخه ولوېدی دغه راز ديوبندي تحريک هم، د برېتانوي استعمار په شمول، له لومړی ورځي، د مختلفو سياسی او عقيدوي مخالفتونو سره مخامخ سو او د هند له نيمي وچي او افغانستان څخه دباندي يي چنداني اغېزه ونه ښندله. ديوبندي علماء د سيمي د اوسېدونكو په څېر حنفي مذهبه دي؛ او د سيمي د خلكو د عقايدو سره سم يي له زيارتونو، خُرافاتو او پيرانو سره چنداني غرض ونه كړ او له دغه امله د سيمي د مسلمانانو د احترام وړ دي.

ديوبند:

ديوبند دارالعلوم په هند كي يوه مدرسه ده چي ديوبندي تحريک له همدغه ځای څخه پيل سوی دی. د ديوبند د مدرسي د تاءسيسېدلو يو مهم او حتی اساسي عامل په ۱۸۵۷ كال كي د ډهلي د پاڅون ناكامي او د مغولو د سلطنت ناكامي او سقوط وو. په هند كي مسلمانو ديني علماوو فيصله وكړه چي په هغه هيواد كي هغو بدعتونو، رواجونو، خُرافاتو او عقايدو ته توجه وكړي چي د اسلام له دين څخه د انحراف سبب ګرځېدلي دي او د اسلام دين بيرته خپل اصلي او كتابي حالت ته وګرځوي. كه څه هم چي د ديوبند د مدرسي يا دارالعلوم د منځته راتللو د مفكوري اساس په هغه هيواد كي د مسلمانانو د تش په نوم سلطنت ړنګېدل او پر ډهلي باندي د انګرېزانو د مستقيمي واكمنی ټينګېدل وه مګر د دارالعلوم موسسينو تر يوه وخته پوري ځانونه له سياست څخه په څنګ وساتل او يوازي يي خپلو مذهبي چارو او پر ديني اساساتو باندي ولاړ تعليمي نصاب ته توجه واړوله. د هغوی لومړنی ابتكار دا وو چي د تدريس لپاره يي د عربي پر ځای چي د علماوو ژبه وه او د فارسي پر ځای چي د ادب او اشرافو ژبه وه اُردو ژبه وټاكله چي د هند د عوامو مسلمانانو ژبه وه.

د ديوبند د دارالعلوم موسسينو په ۱۸۶۶ كال كي خپل علمي فعاليت پيل كړ. لومړنی مدرس يي محمود ديوبندي وو چي په ۱۸۸۶ كال كي وفات سو او له هغه څخه وروسته نوبت د هغه شاګرد محمودحسن ديوبندي يا شيخ الهند ( ۱۸۵۱-۱۹۲۰) ته ورسېدی چي د مدرسي په اداري چارو كی يي مهم رول درلودی. نور مهم غړي يي رشيد احمد ګنګوهي، يعقوب نناتوي، رفيع الدين ديوبندي، سيد محمدعابد، ذوالفقار علي، فضل الرحمن عثماني او محمدقاسم نناتوي وو. دوی د ۱۸۸۰ د لسيزي تر پايه پوري لږترلږه ۱۵ مدرسي جوړي او فعاله كړی؛ چي ټولي يي اكثراً له عوامو څخه د پيسو جمع كولو له لاري جوړي كړي وي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همكاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيكه ټينګه كړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليكني د ليكنيزي بني پازوالي د ليكوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليكنه له راليږلو مخكي په ځير و لولئ

دیوبندي علماو غوښتل چي د اسلام په دین کي د را پیدا سویو انحرافاتو مخه ونیسی او اسلام دین بیرته هغه پخواني عظمت ته وګرځوي. که د اسلام له نظره ورته وکتل سي، دا ډېر پر ځای او معقول حرکت او تصمیم وو. مګر دوی باید دې حقیقت ته توجه کړې وای چي نړۍ له پخوا څخه ډېر زیات تغییر کړی دی او د هند په ټولنه کي له ډیري پخوا زماني راهیسي داسي تغییرات روان وه چي نه یوازي د دیوبند د علماوو لپاره بلکه د هر قدرت لپاره یې بیرته پر شا ګرځول غیر ممکن وه.
په هند کي یوګا، درویشی، د دنیا ترک وهلو، صوفیګری، خُرافات پرستی او ګورو یا مرشد پرستی له سوونو کلونو راهیسي رواج درلود او اسلامي تصوف ته یې هم په پرانیستي غېږه هرکلی وواېه. د اسلامی تصوف په طریقو کي تر هر څه چِشتیه طریقي ډېر او پراخ نفوذ وکړ؛ ځکه چي په چِشتیه طریقه کي نه یوازي ساز او آواز، قوالي او د ذکر په وخت او په زیارتونو کي عُرسونو او نڅاوو ته اجازه وه بلکه د چِشتیه طریقي یوه نه بېلېدونکي برخه ګڼله کېده.
د شیخ نظام الدین اولیاء د پیر او مرشد شیخ فریدالدین ګنج شکر ۱۱۷۳-۱۲۶۵ په محفلونو کي د هندو جوګیانو هرکلی کېدی او هغوی به شعرونه پکښي ویل. په دې شعرونو کي، چي له ساز سره به ویل کېدل د هندوانو د خدای ویشنو او راما او کریشنا صفتونه کېدل. له دیوبندیانو څخه څه باندي سل کاله مخکي د شاه ولی الله دهلوي ۱۷۰۳-۱۷۶۲ لپاره، چي په هند کي د اسلام د دین د لویو رهبرانو څخه وو، ګرانه او حتی غیر ممکنه خبره وه چي د دغو رواجونو پر ضد مبارزې څخه دې څه جوړه کړي. سره له هغه چي په هغه وخت کي د چِشتیه طریقي کوم داسي مهم پیر او مرشد موجود نه وو چي د شاه ولی الله سره دي سیالي وکړای سي مګر دې طریقي په هغه ټولنه کي داسي ریښي ځغلولي وې او له هندو مذهب او هندو کلتور سره یې دونه ژور ارتباط ټینګ کړی وو چي بیرته شاته ګرځول یې د هر چا تر وس تېره خبره وه. Rizvi. Shah Wali-Allah P358
البته د دې معنا دا نه ده چي دیوبند دارالعلوم په خپلو اهدافو کي ناکام وو. هغوی، په ټولنه کي له ټولو ستونزو او د انګرېزانو د حکومت له ټولو مخالفتونو او دسیسو سره سره نه یوازي خپل ژوند ته دوام ورکړ بلکه نفوذ یې ورځ تر بلي پراخ کړ او د هند د نیمي وچي او افغانستان څخه یې شاګردان جلب کړل. حتی د مولوی عبدالوفاء په نوم یو افغان یې د څه مودې لپاره د رییس په حیث هم کار وکړ.
په هند کي له ډیرو پخوا زمانو څخه دیني مدرسي د مغولي پاچاهانو او محلي واکمنانو له خوا تمویلېدلې. البته د دې کار نقص په دې کي وو چي مدرسو باید د واکمنانو له ارادې او پلان سره سم حرکت کړی وای او علماء له دربارونو سره په دایمي ارتباط کي ساتل کېدل. دیوبندیانو دغي عنعني ته تغییر ورکړ او د دارالعلوم لپاره یې له لومړي سره د ټولني د عوامو له طبقي څخه اعانې ټولي کړې او له لومړۍ ورځي یې مستقل حرکت پیل کړ او تر نني ورځي پوري یې دوام ورکړی دی.
د دیوبند دارالعلوم پر دیني پروګرامونو برسېره، له لومړۍ ورځي، د برتانوي استعمار پر ضد مبارزه کوله. په افغانستان کي یې د هند لپاره د موقتي حکومت له صدراعظم مولوي عبیدالله سندهي او نورو فعالانو سره ارتباط ساتلی وو او مولوي عبیدالله سندهی د دارالعلوم له رییس مولنامحمودالحسن سره مستقیم اړیکي ساتل. دغه راز یې د جمعیت علمای هند په نوم یو سیاسي ګوند تاءسیس کړ او د شرق الهند د کمپنی پر ضد یې، د هند له ملي کانګریس سره همکاري کوله.
د دیوبند د دارالعلوم د تاءسیسېدلو اصلي علت، تر ډېره ځایه، په ۱۸۵۷ کال کي د ډهلي د پاڅون ځپل کېدل او د مسلمانانو د تش په نامه حکومت ختمېدل وه. په دې اساس باید دارلعلوم، د خپلو دیني پروګرامونو تر څنګ، سیاسي پروګرامونه هم مخته بېولي وای؛ مګر د سیاست میدان داسي ګوندونواشغال کړی وو چي هغوی یوازي سیاسي پروګرامونه درلودل او هغو مسلمانانو چي له هند څخه یې د انګرېزانو د ایستلو لپاره حرکت کاوه زیاتره په دغو ګوندونو کي جذب سوي ول. په دې حساب نو ګواکي دارالعلوم ته یوازي دیني پروګرامونه پاته سول او په سیاست کي چنداني ونه ځلېدی.
د پاکستان له تقریباً درې سوه میایونه نفوس څخه تقریباً ۸۰ میلیونه ځانونه دیوبندیان بولي . د دیوبندیانو اکثریت پیروان په خیبر پښتونخوا او بلوچستان کي دي او تقریبا ۶۵ فیصده مدرسي په دیوبندیانو پوري اړه لري.
مولنا عبدالحق په ۱۹۴۷ کال کي، د دیوبند د دیني پروګرامونو سره سم، د حقانیه مدرسي د تأسیسولو حرکت پیل کړ. البته حقانیه مدرسو، د دیوبند د دارالعلوم په خلاف، چي یوازي په دیني پروګرامونو پوری منحصر پاته سو، د پاکستان او سیمي په سیاست کي فعاله ونډه واخیستله. د هند پر ضد یې ځان مرګي او ترورېستان وروزل او پر افغانستان باندي د شوروي له یرغل څخه بیا تر نن ورځي پوري د هغه هیواد په سیاسي تحولاتو کي فعاله ونډه لري.
په ۲۰۰۱ کال کي پر افغانستان باندي د امریکا او ناټو د یرغل او اشغال په شل کلنه دوره کي ټول ځانمرګي ځوانان په همدغه حقانیه مدرسو کي روزل سوي او د ۲۰۲۲ کال د آګست په میاشت کي پر کابل باندي د طالبانو د واکمن نظام ډېر زیات مشران په همدغه حقانیه مدرسو کي، چي ویل کیږي شمېر یې زرګوو ته رسیږي، روزل سوي دي.
مولنا محمدالیاس الکندلوي په ۱۹۲۶ کال کي، په هند کي د تبلیغی جماعت په نوم یو حرکت پیل کړ چي په لږ وخت کي یې ډېر زیات پیروان پیدا کړل. دا حرکت اصلاً د هندوانو د مذهبي تبلیغ د حرکت او تنظیمونو په مقابل کي، چي په هند کي یې د مسلمانانو د جلبولو او له مذهبه اړولو لپاره ضمني فعالیتونه کول، منځته راغی. تبلیغی جماعت په هیڅ ډول سیاسی فعالیت کي برخه نه اخلي. په سیاسی بحثونو او حتی په فقهی مسایلو کي له بحثونو څخه ځانونه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

ژغوري او يوازې د اسلام د ارکانو په باره کې تبليغ کوي. خلک لمونځونو او د اسلامي فرايضو اداکولو ته رابولي او د حرام او نواهيو پر ضد تبليغ کوي. دا ډله اوس حاضر په جنوب ختيځه اسيا، جنوب لوېديځه اسيا، اروپا، افريقا او شمالي امريکا کې فعاليت کوي او په دې ټولو هيوادونو کې ځانګې لري.

که څه هم چې ديوبند دارالعلوم، په اساس کې، د يوه لوی سياسی هدف لپاره چې، د هند په نيمه وچه کې، د اسلام د عظمت بيرته را ژوندي کول وه، جوړ سو؛ مګر خپله ټوله توجه يې د اسلام د دين تبليغ او خُرافاتو او مضرو عقايدو پر ضد مبارزې ته متوجه کړه . ديوبندي علماء، په تېره بيا د افغانستان ديوبندي علماء، له طريقت او تصوف سره مخالفت نه لري بلکه زياتره يې تصوف ته معتقد خلک دي. ديوبندي علماء ځان وژنه لکه د بل بې ګناه مسلمان وژل قتل نفس او ناروا بولي؛ په داسي حال کې چې د حقانيه مدرسو استادان او مبلغين نه يوازې ځان وژنه ناروا نه بولي بلکه د دې ناوړه عمل د تشويقولو لپاره يې مبلغين او مولويان استخدام کړي وي. څرنګه چې حقانيه مدرسي، له لومړي سره، د سياسي اهدافو لپاره، په تېره بيا د هند سره د دښمنۍ د پاللو لپاره، جوړې سوي دي نو خپل هدف ته د رسېدلو لپاره هر عمل جايز او حتی جهاد بولي. دغه علت دی چې د طالبانو په منځ کې ديوبندي ملايان نسته بلکه تقريباً ټولو يې په حقانيه مدرسو کې تعليمونه کړي دي او له لومړي سره، په تېره بيا د امريکايانو او ناټو د اشغال له کلونو څخه، يې د ځان مرګو حملو څخه کار اخيستی او د ځان مرګو ترڅنګ د زرهاوو بې ګناه انسانانو د قتلېدلو سبب سوي دي. طالبانو، ځانمرګو حملو ته، چې د قرآن او احاديثو په حکم ناروا عمل او قتل نفس بلل سوی دی، د جهاد رنګ ورکړ او مرتکبينو ته يې د حتمي جنت وعدې ورکولې.

په طالبانو کې د ديوبند له دارالعلوم څخه د فارغانو د نه موجوديت يو عمده علت دا هم دی چې د افغان مهاجرينولپاره ، په تېره بيا ماشومانو او ځوانانو ته، حقانيه مدرسي هم نيژدې او هم يې، هند ته د داخلېدلو په څېر، سرحدي ستونزې نه درلودلې. پاکستان د افغانانو او افغان مهاجرينو له دې ستونزو څخه ښه ګټه پورته کړه او په خپلو حقانيه مدرسو کې يې په لس هاوو زره کسان وروزل چې ښايي د کشمير په جنګونو کې به يې هم کار ورڅخه اخيستی وي.

سلفي يا سلفيه:

لکه له نامه څخه چې يې څرګنديږي سلفي د پخوانيو يا اسلافو، چې سلفيانو سلف صالح ورته ويل، لاره تعقيبول دي. له سلف صالح څخه د دوی مطلب صُحابهٔ، تابعين او تبعِ تابعين دي. سلفيان په خپلو اصولو او عقايدو کې د اسلام تر ټولو اصلاحات غوښتونکو ټينګ او جدي دی. د دې تحريک اساس په شمالي افريقا کې، چې مسلمانان يې د فرانسي او هسپانيې تر تسلط لاندی ول، پيل سو.

د سيد جمال الدين افغاني شاګرد او ملګری محمدعبدُه د ۱۸۸۵ کال د جنوري په مياشت کې تونس ته ولاړ او غوښتل يې چې د « عروةالوثقی» د يوې پټې ځانګې اساس کښېږدي. د مالکي مذهب شيخانو د هغه چنداني تود هرکلی ونه کړ خو د دغه مذهب ځوانو عالمانو او د حنفی مذهب پيروانو د هغه هرکلی وکړ. کله چې محمدعبدُه په ۱۹۰۳ کال کې، د دوهم ځل لپاره، تونس ته ولاړ؛ دا ځل يې تود هرکلی ونه سو او ډېرو علماوو هغه ته د وهابي نوم ورکړ او محمدعبدُه ګواکي له تونس څخه په ناکامي ستون سو.

محمدعبدُه وروسته الجزاير ته ولاړ او هلته يې ځکه تود هرکلی وسو چې د الجزاير خلک، منورين او علماء د فرانسې له استعمار څخه کړېدل او علماوو ته دا حقيقت څرګند سوی وو چې د فرانسويانو د تبليغاتو د نفوذ له امله اسلامی عقايد له خطر سره مخامخ دي. که څه هم چې عبدُه په الجزاير کې د ډېري لنډې مودې لپاره تم سو خو د هغه هيواد پر منورينو باندې يې ډېره ژوره اغېزه وکړه او د تل لپاره يې د سلفي عقايدو اساس کښېښود. له همدغه ځايه څخه سلفي عقايد المغرب يا مراکش ته ورسېدل خو د الجزاير په څېر زور يې نه په تونس او نه په المغرب کي وليده سو.

Encyclopadia of Islam, Salafi.

سلفي عقايدو د ودې او انکشاف او د يوه سياسي هويت او اغېزمن رهبريت لپاره د يوه دولت يا يوه قوت ملاتړ ته اړتيا درلوده. که څه هم چې ځينو مذهبي علماوو د سلفي عقايدو پيروي کوله او د همدغو عقايدو لپاره يې دلته هلته تبليغات کول خو د سلفي مکتب په حيث چنداني چا نه وه پېژندلې. تر څو چې په ۱۹۶۱ کال کې د مديني اسلامي پوهنتون پرانيستل سو.

دا وخت د سعودي عربستان وهابي رژيم هم له خپل پخواني زور او توندروی څخه لوېدلی وو. د دربار په سل ګونو شهزادګانو او د اشرافو او شته منو کسانو زامنو په لوېديځ کې تحصيلات کړي او له نويو تجربو او افکارو سره هيواد ته ستانه سوي ول؛ او د سعودي دربار هم له لوېديځي نړۍ سره پراخ اړيکي ټينګ کړي وه او د وهابي عقايدو تر څنګ د نورو عقايدو نسبي تحمل ته تيار وو.

په دغه وخت کې د سوريې يو محدث، چې په البانيه کې زېږېدلی وو، شيخ نصيرالدين الالباني زيات شهرت تر لاسه کړی وو. شيخ نصيرالدين د دمشق په جوماتونو کې د هغه هيواد د علماوو ابن الوقت دريځونه غندل او يوازې هغه څه يې ويل او تبليغول چې د اسلام له دين سره يې بشپړ مطابقت درلود. شيخ د مديني اسلامي پوهنتون ته ورغی او هغوی په ورين تندي ومانه. شيخ، که څه هم چې د اخوان المسلمين سره يې زاړه اړيکي درلودل، د هغه ګوند او د هغوی د طرفدارانو بشپړ ملاتړ نه درلود؛ ځکه چې اخوانيانو هم د ورځني سياست په رڼا کي د وهابيانو ډېري هغه پاليسی تاييدولې چې د شيخ نصيرالدين له نظره يې د اسلام له دين سره بشپړ مطابقت نه درلود. ځکه چې ده يوازې هغه څه منل چې د قرآن او حديث له متونو سره به برابر وه او که به نه وه مستقيم انتقاد يې کاوه. له دغه امله د شيخ نصيرالدين او د سعودي عربستان د وهابيانو ترمنځ اختلاف راغی.



افغان جرمن آنلاين په درنښت ناسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

مثلاً الباني ویله چي که خبره د دین او الاهیاتو سي نو وهابیان پر سمه لاره روان دي مګر که د فقهي له نظره ورته وکتل سي نو دوی پر غلطه دي ځکه چې دوی د حنبلي مذهب پیروي کوي او مذهبي مکتبونه ټول وروسته منځته راغلي او بدعتونه دي. مسلمانان باید یوازي قرآن او د پیغمبرص احادیثو ته مراجعه وکړي. یوه مشخصه مسله چي شیخ، په دغه اړه، مطرح کوله هغه دا وه چي ویل یې نه په قرآن او نه په حدیث کي راغلي دي چي ښځي دي خپل مخونه پټ کړي. د ده شاګردانو نه یوازي په عقایدو کي د ده خبري منلي بلکه لمونځونه یې هم د ده له هدایت سره، چي له وهابي طریقي سره یې مغایرت درلود، ادا کول. ده لمونځ په داسي طریقه کاوه چي حسن البناء هغه انحراف بللی وو مګر شیخ حتی پرحسن البناء او اخوان المسلمین باندي هم له دې امله انتقادونه کول چي ځانونه یې ډېر زیات په سیاسي لوبو کي اخته کړي او سمه لاره ورڅخه پاته سوې وه. شیخ پر اخوان المسلمین باندي له دې امله خصوصاً انتقاد کاوه چي صوفي عقاید یې منلي او تحمل کړي وه.
ډېر زیات ځوان محصلین د شیخ د پوهي او زیات علمیت تر اغیزې لاندي راغلل او ځانونه یې اهل حدیث وبلل او په دې توګه یې له حنبلي مذهب او اخوان السملین څخه لاره بېله کړه. کله چي سعودي حکومت، څو کاله وروسته، د شیخ د استادی قرارداد فسخ کړ او شیخ بیرته سوریې ته ستون سو نو تر شا یې ډېر زیات داسي شاګردان پرېښودل چي لمونځ یې د شیخ پرطریقه کاوه او د مذهب په برخه کي یې یوازي د قرآن او حدیث احکام منل. یوه ډله ځوانانو په ۱۹۶۵ کال کي په مدینه کي پر یوه مغازه باندي حمله وکړه او هغه ښځینه ډمې یې ماتي کړې چي په کړکیو کي کېښېنول سوي وې. یوې بلې ډلي له حکومت څخه وغوښتل چي د دوی مذهبي طریقه په رسمیت وپېژني. دوی له مفتی اعظم شیخ عبدالعزیز بن باز سره وکتل او هغه د دوی دا ابتکار ورسره ومانه چي دوی به د سلفیانو، یا د سلف صالح د پیروانو، په نوم پېژندل کیږي.
په ۱۹۷۷ کال کي شیخ ابن باز خپل یو استازی سلفیانو ته ولېږی چي د هغوی له مشر شیخ جُهیمن العتیبي سره وګوري. کله چي د ابن باز استازي د سلفیانو له شیخ څخه وغوښتل چي د وهابیانو پر طریقه لمونځ ورسره وکړي او جُهیمن د هغه خبره ونه منله نو په دغه وخت کي د دواړو خواوو ترمنځ ډېري ترخي خبري وسوې او د ابن باز او سلفي ډلي اختلاف نور هم زور واخیست.
جُهیمن په هغه مابنام د سعودي عربستان پر شاهي کورنی باندي انتقادونه وکړل چي څرنګه یې په ۱۹۲۰ کال کي جهاد پرېښود او دغه راز یې په هیواد کي بانکي سستم ته، چي په شریعت کي ناروا دی، اجازه ورکړې ده. شیخ جهیمن د ابن باز استازي ته وویل چي سعودي کورنی د هیواد د تېلو له خرڅلاو څخه لاسته راغلي پیسي خپلو جیبونو ته اچوي او هیواد لوټي. څو ورځي وروسته، د سعودي عربستان حکومت د شیخ جهیمن د نیولو کوښښ وکړ خو هغه د عربستان لیري صحراوو ته تښتېدلی وو.له دغي نېټي څخه وروسته د سلفیانو او وهابیانو اختلافات داسي سرحد ته ورسېدل چي نور یې د پخلاکېدلو امکانات له منځه ولاړل. Commins, PP 138-40
د ۱۹۷۹ کال د نومبر په میاشت کي، سهاروختي د لمانځه پر مهال، شیخ جهیمن د تقریباً ۳۰۰ وسله والو پیروانو سره، د کعبي په جومات ننوت. د جومات ملا امام یې له منبره را کښته کړ او شیخ جهیمن خلکو ته وینا وکړه. هغه آل سعود له اسلام سره په خیانت تورن کړل او وې ویل چي هغوی خپله خاوره او مقدسات پر کافرانو باندي پلورلي دي. سعودي پولیسو او عسکرو مداخله وکړه خو د شیخ جهیمن ملګري ورباندي غالب سول. دې نښتو دوې هفتي دوام وکړ او تقریباً ۲۰۰ تنه پکښي ووژل سول. سعودي حکومت بالآخره، د فرانسویانو په مرسته، شیخ جهیمن او د هغه ملګرو ته ماته ورکړه. شیخ جهیمن یې ونیوی او له ۶۲ نورو ملګرو سره یې اعدام کړ. هغه کتاب ص ص ۱۲۹-۱۳۰
سعودي کورنی له لومړیو ورځو، چي یو څو کلي به یې په لاس کي وه، د حجاز تر نیولو او پر ټول سعودي عربستان باندي د کنټرول تر ټینګولو پوري ټول عمر په مطلقه دیکتاتوري تېر کړی وو او پرته له خپلي کورنی یې بل هیڅ چا ته د نظر د ښکندولو حق نه وو ورکړی. مګر د شلمي پېړی په پای او د یوویشتمي پېړی په لومړیو کلونو کي شرایطو تغییر کړی وو او دوی مجبورسول چي ملت ته هم یو څه حقوق ورکړي. ګواکي دیکتاتوري که هر څونه مطلقه هم وي تر ابده دوام نه سي کولای او د قدرت خاوندان بالاخره د خپلو خلکو د غوښتنو منلو ته مجبوریږي.
د ۲۰۰۳ کال د جنوري په میاشت کي تقریباً سلو منورینو، لیکوالانو او د کاروبار څښتنانو ولیعهد عبدالله ته یوه عریضه واستوله او د خلکو او شاهي کورنی ترمنځ د اړیکو د بهترولو لپاره یې په مذهبي او اجتماعي چارو کي د یوې شورا غوښتنه وکړه.
په سعودي عربستان کي اثناعشریه شیعه ګان، اسماعیلیه شیعه، غیروهابي سنیان لکه مالکي او شافعي مذهبه کسان او د صوفیانو ډلي ژوند کوي؛ او د سعودي کورنی مجبور سول چي که له خلکو سره خبري کوي نو باید چي د دې ټولو ډلو استازي برخه پکښي ولري. د ۲۰۰۳ کال د جون په میاشت کي د ملي خبرواترو یوه غونډه جوړه سوه او دا چي وهابي رژیم شیعه ګانو او صوفیانو ته د مسلمانو ورونو په توګه بلنه ورکوله دا پخپله یو لوی ګام وو. په دې توګه پر مذهبي چارو باندي د سعودي کورنی انحصار پای ته ورسېدی او ولیعهد دوې میاشتي وروسته د ملک عبدالعزیز په نوم مرکز د راتلونکو خبرو اترو لپاره پرانیست. په دې غونډو کي د صحوة ( ویښوالی، بیداري) په نوم ناراض وهابي شیخانو او د هغوی پیروانو، چي له وهابیانو پرته یې ټولو مسلمانانو، په تېره بیا صوفیانو او شیعه ګانو ته کفار ویل برخه واخیستله. هغه کتاب ص ص ۹۸-۹۹


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

وهابي اسلام له زوره لوېدلی وو. هغه وهابيان، او د هغوی په سر کي د آل سعود کورنۍ، چي مسلمانان به يې زيارتونو ته د تللو له کبله مشرکين بلل او شيعه ګانو ته يې د کفارو په سترګه کتل او د کفارو ملکونو حتی ترکيې ته يې سفر کول ناروا بلل د کفارو عسکرو ته په خپله خاوره کي د پوځي اډو د جوړولو اجازه ورکړې وه. شهزاده ګانو ږيري وخريلې او د سر وېښته يې اوږده کړل. د غربيانو په ډول لباسونه يې په ځان کړل او بالاخره يې ښځو ته د موټر چلولو اجازه ورکړه. په همدغه توګه د عبدالرب رسول سياف په مشری سلفيانو، چي کفارو ته يې د لاس ورکول، له هغوی سره خبري کول او حتی هغوی ته د لاري رهنمايي کول ناروا بلل له کفارو سره پر يوه مېز کښېنستل. نه يوازي پر يوه مېز ورسره کښېنستل بلکه د طالبانو د اسلامي نظام په نسکورولو او د افغانستان په اشغالولو کي يې مرسته ورسره وکړه. د سياست او سياسي لوبو په ميدان کي يوازي اصلي هدف، چي قدرت نيول او د قدرت ساتل دي، پر خپل حال پاتېږي نور نو په هر څه کي تغيير ممکن دی.

بريلويان:

بريلوي تحريک د ۱۸۸۰ په لسيزه کي د هند په شمال کي د روهيلکنډ د بريلي په ښارګوټي کي مولنااحمدرضاخان ( ۱۸۵۶-۱۹۲۱) تاءسيس کړ. دوی ځانونه اهل سنت والجماعة بولي او وايي چي دوی په جنوبی اسيا کي تر ټولو مسلمانانو د حضرت پيغمبرص او د هغه د اصحابو بهتر پيروان دي. دغه تحريک هم، د ديوبند د دارالعلوم په څېر، په ۱۸۵۷ کال کي د هند د مغولي سلطنت د سقوط په مقابل کي د يوه عکس العمل په څېر منځته راغی. د دې تحريک مشرانو هم ويل چي په هند کي ملسلمانانو ځکه قدرت له لاسه ورکړ چي مسلمانانو د خپل دين څخه مخ اړولی او په عقيدوي لحاظ کمزوري سوي دي. خو دا چي مسلمانان بايد د راغلي مصيبت څخه د ژغورلو لپاره څه وکړي بريلويانو او نورو ډلو چي هغوی هم د يوه تجديد د ضرورت شعار ورکاوه په عقيده او عمل کي توپير درلود.

مولنا احمدرضاخان او هغه هغه پيروان شيخان او پيران او اکثر يې د قادريه طريقې پيروان ول. مولنا ويل چي يو ښه مسلمان بايد پيغمبر د يوه محبوب لارښود په حيث وپېژني او پر دې باور ولري چي هغه د قيامت په ورځ د خپلو بنده ګانو شفاعت، د يوې سلسلې په توګه کوي. د لويو پيرانو پر سلسله باندي تر ژوندي پير پوري راځي او پر هر فرد باندي واجب دي چي د دغه ژوندي پير سره بيعت وکړي.

Esposito, John L. The Oxford Encyclopedia of the Islamic Word. Barelwis.

د بريلويانو او د ديوبند د دارالعلوم ترمنځ لومړنی اختلاف، حضرت پيغمبر ته د ځينو صفاتو د ورکولو پر سر راغی. برېلويانو ويل چي پيغمبر آينده ويني او علم غيب لري او که پيغمبرص وغواړي هم په روحي او هم په جسماني لحاظ په يوه وخت کي په څو ځايونو کی حاضرېدلای سي. احمدرضاخان ويل دا صفات پيغمبرص ته حق متعال ځکه ورکړي دي چي له هغه سره يې د يوه محبوب په حيث ارتباط درلود. احمدرضاخان خپل ټول مخالفين لکه سيداحمدبرېلوي، چي د سيکهانو سره په جنګ کي وژل سوی وو، او ده وهابي باله، سرسيداحمدخان او ديوبنديان کافران بلل. هغه منبع.

احمد رضاخان په ۱۹۰۶ ميلادي کي د حج په وخت کي د مکې او مدينې له علماوو څخه د ديوبنديانو پر ضد يوه فتوا راوړه او هغوی يې له دين څخه منحرفين معرفي کړل. په مقابل کي دېوبنديانو هم د برېلويانو پر ضد فتواوي صادري کړې. بالآخره د پاکستان ديوبنديانو د سپاه صحابه او وروسته د لشکرجنګوي په نوم ملېشې جوړې کړې چي هم يې شيعه ګان او هم يې برېلويان وژل. يوه مستقله څېړنه ښيي چي د ۲۰۰۵ کال د مارچ له مياشتي څخه د ۲۰۱۱ کال د اپرېل تر مياشتي پوري ديوبنديانو پر برېلويانو باندي ۲۹ حملې کړې دي او په ۲۰۰۹ کال کي په ديوبنديانو پوري مربوط « تحريک طالبان» پر برېلويانو باندي يوه ځانمرګې حمله وکړه او د هغوی يو مشر مفتی سرفراز نعيمي يې، چي د تحريک طالبان پر ضد په مبارزه او تبليغ مشهور وو، ووژه. د دې سني ډلو ترمنځ نښتي، چي اکثر وختونه قتلونه پکښی کيږي، له څه باندي ۶۰ کلونو راهيسي رواني دي. د دېوبنديانو پيروان زياتره د پاکستان په پښتني سيمو او د برېلويانو پيروان په پنجاب کي نفوذ لري.

د دېوبنديانو او برېلويانو د نظر د اختلاف يو مهم ټکی دادی چي ديوبنديان د شريعت ظاهري احکامو ته اهميت ورکوي او برېلويان باطني مسايلو ته متوجه دي. مثلاً برېلويان د پيغمبرص په باره کي وايي چي هغه« نور» وو خو دېوبنديان وايي چي هغه بشر وو. برېلويان وايی چي محمدص له آدم ع څخه مخکي پيدا سوی وو. دېوبنديان د قرآن د آيتونو په استناد وايی چي هغه د نورو انسانانو په څېر مځکی ته راغلی او د نورو انسانانو په څېر يې رحلت کړی دی. ديوبنديان وايي چي مسلمان بايد د پيغمبرص سره د عشق رابطه ولري او هغه خپل معشوق فرض کړي. دېوبنديان دا رابطه ناروا بولي او پيغمبرص ته د خدای د استازي او رسول په حيثيت قايل دي. دغه راز برېلويان د زيارتونو په لمانځلو او د مختلفو پيرانو د زېږېدني د ورځي او د مړيني د ورځي په مناسبت عُرسونه او مراسم جوړوي خو دېوبنديان دغه راز مراسم د شرک سره معادل بولي.

په هر صورت د دې دوو ډلو او نورو مذهبي ډلو ترمنځ اختلافات د پيدا کېدلو له ورځي مخ پر زياتېدلو دي او داسي نه ښکاري چي دا به کومه ورځ د حل لاره ولري. په داسي حال کي چي هره ډله ځانونه اصلي سُنی مسلمانان بولي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

# مأخذونه


۱: تفسیرکابلي، عربي فارسي.
۲: تفسير يوسف علي، عربی فارسي.
۳: د سعودي عربستان تفسير، عربي پښتو.
۴: د سعودي عربستان تفسير، عربي انګليسي.
۵: صحيح بخاري، عربي انګليسی.
۶: صحيح مسلم، عربي انګليسی.
۷: جامع ترمذي، عربي انګليسی.
۸: سنن ابوداوود، عربي انګليسی.
۹: سنن ابن ماجه، عربي انګليسی.
۱۰: النسایی، عربی انګليسی.
۱۱: شهرستانی، محمدبن عبدالکريم بن احمد. ترجمه سيد محمدرضا جلالی نايينی. توضيح الملل، ترجمه الملل والنحل، جلد اول. تهران چاپ چهارم ۱۳۷۳.
۱۲: طبری، محمدبن جرير. تاريخ طبری يا تاريخ الرسل والملوک. ايران، چاپ سوم ۱۳۶۹ هجری شمسی.
۱۳: ميهنی، محمدبن منور بن ابی سعيدبن ابی طاهر بن ابی سعيد. اسرارالتوحيد.تهران چاپ يازدهم ۱۳۹۳ هجری شمسی.
۱۴: سيد علوی، سيد ابراهيم. ترجمه و نګارش. تاريخچه و نقد و بررسی عقايد وهابی ها. تهران چاپ ۱۳۶۵ هجری شمسی.
۱۵:درويزه، اخند. ارشادالطالبين. چاپ پشاور سال ۱۹۰۴ ميلادی.
۱۶: درويزه اخند. تذکرة الابرار والاشرار. چاپ پشاور ۱۳۰۹ هجری شمسی.
۱۷: سبحانی، استادجعفر. آيين وهابيت. تهران ۱۳۶۴ هجری شمسی.
۱۸: شهيد، مولنا شاه اسماعيل. صراط مستقيم. چاپ دهلی ۱۹۹۹.
۱۹: مسعودي، علی بن حسين. مروج الذهب و معادن الجوهر. مترجم ابوالقاسم پاينده. چاپ هشتم تهران ۱۳۸۷.
۲۰: زيدان، جرجي. تاريخ تمدن اسلام. ترجمه و نګارش علی جواهرکلام. تهران چاپ پانزدهم ۱۳۶۵.
۲۱: حسين، علامه طه. آشوب بزرګ. ترجمه م. شفيق وجدان. چاپ کابل ۱۳۵۰.
۲۲: کسروي، احمد. شيعه ګری.
۲۳: بن باز، عبدالعزيز بن عبدالله. العقيدة الصحيحة و يُضادها و نواقص الاسلام. عربستان سعودي ۱۴۱۴ هـ ق.
۲۴: بن باز، عبدالعزيز بن عبدالله. إقامة البراهين. سعودی عربستان الرياض. ۱۴۱۴ هـ ق.
25: Al Imam Alnawawi. Forty Hadith. International Islamic Federation of Student Organization. 1992.
26: Ibn Abdul Wahab, Shaykh Muhammad. Kitab Al Tawhid. International Islamic Publishing House. Kingdom of Saudi Arabia 1992.
27: At Tamimi, Muhammad bin Salman. The Fundamentals of Islam. Kingdom of Saudi Arabia 1997.
28: Al-Omar, Abdurrahman Ben Hammad. The Religion of Truth. Kingdom of Saudi Arabia 1997.
29: Sharif, M.M. A History of Muslim Philosophy. Published in India. 1989.
30: Dreyfuss, Robert. Devil's Game. New York 20.
31: Keddie, Nikki R. Sayyid Jamal Ad-Din Al Afghani. A Political Biography. U.S. University of California 1972.
32: Loyn, David. In Afghanistan. U.S.A 2009.
33: Roy, Olivier. Islam and Resistance in Afghanistayn. London 1985.
34: Rizvi, Saiyid Akhtar Abbas. Shah Wali-Allah and His Times. Australia 1980.
35: Philby, Harry St. John Bridger. Arabia of the Wahabis. U.K 1977.
36: Lawrence, T.E. Seven Pillars of Wisdom. U.S.A 1991.
37: Delong-Bas, Natana J. Wahhabi Islam. Oxford University 2004.
38: Kohlmann, Evan F. Al-Qaida's Jihad in Europe. U.S.A 2005.
39: Tomsen, Peter. The War of Afghanistan. U.S.A 2011.
40: Commins, David. Islam in Saudi Arabia. U.S.A 2015.




افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

41: Coll, Steve. Ghost Wars. New York 2005.
42: Coll, Steve. Directorate. New York 2018.
43: Shorter Encyclopedia of Islam. London 1961.

44: The Oxford Encyclopedia of the Modern Islamic World. Oxford University Press 1995.
45: Encyclopedia of Islam.
46: Barr, James. Setting the Desert on Fire. U.S.A. 2008.
47: Internet.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ